



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

---



# انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نېټه : 26 دسمبر 2015 م

# د زړه چيغه

خدايه بيا د ډزو غږ آوريدل کيږي
چيرى بيا به بيګناه خلک وژل کيږي
چيرى بيابه په سرو وينو کى لړيږي
چيرى بيابه مور دزوى په غم کړيږي
دلته هيڅکله د ژوند لمر نه ختلى
دلته چا د سولى خوند ندى ليدلى
دى تورتم کى به تر کله ډيوه مړه وي
دا وطن کى به تر کله توره شپه وى
دا قومونه به تر کله ټول خفه وي
محبت پر ځاى تر کله به کينه وي
بى رحمي ده خدايه رحم تښتيدلى
دلته چا د سولى خوند ندى ليدلى
نيوهيرمه وژلو کى څه خوند وي
دا وحشت او زورولو کى څه پند وي
يا تر کله به دجنګ دلته سوګوند وى
بيچاره مظلومان کله به خرسند وي
تل همدا وي چيرى جهل چا منلى
دلته چا د سولى خوند ندى ليدلى

***

محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلى www.said-afghani.org